هفته نامه
# معارف
اوونیزه
روزل شوی نسل نیکمرغه افغانستان
جمهوری اسلامی افغانستان - د پوهنې وزارت - ۱۳۸۱
د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه
سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۱۸ ماه سنبله سال ۱۳۹۶

## پیام جلالتمآب وزیر معارف به مناسبت روز جهانی سواد

بسم الله الرحمن الرحیم «اقرأ باسم ربک الذی خلق»
ترجمه: بخوان به نام پروردگارت که همه جهان را آفریده است.

مسرت دارم به مناسبت روز جهانی سواد، که مصادف است به ۱۷ سنبله، بهترین تبریکاتم را به نماینده گی از رهبری وزارت معارف کشور، به پیشگاه ملت علم پرور افغانستان به ویژه استادان و دست اندرکاران عرصه سواد آموزی عرض میدارم.

مبرهن است که داشتن سواد و گسترش دانایی نه تنها برای انکشاف و پیشرفت کشور، بل به خاطر رسیدن به صلح همگانی و دسترسی به زنده گی مرفه، یکی از فکتور های اساسی به شمار می رود که در شرایط فعلی از ضروریات اساسی جامعۀ ما می باشد. زیرا زمانی می توانیم به همه نا هنجاری های اجتماعی و مشکلات اقتصادی فایق آیم که مجهز به سلاح علم و دانش باشیم.

همانطوریکه می دانیم جامعۀ عاری از سواد، جامعۀ ای است ناتوان و وابسته به دیگران و تا زمانی که ملت ما از نعمت سواد بهره مند نشود، رسیدن به آرمانهای بلند و مشروع ناممکن خواهد بود و افراد آن جامعه به هیچ نوع پیشرفت، سعادت و توسعه یی دست نخواهد یافت.

جای خوشبختی است که امروزه پیکار با بی سوادی در جهان، به یک نهضت فعال مبدل گشته و بسیاری از کشور های جهان به هدف ریشه کن ساختن آن کمر همت بسته اند.



اینک وزارت معارف افغانستان نیز در روشنایی قانون اساسی کشور، برنامۀ رفع بی سوادی را درجنب سایر پلان های تعلیمی و تربیتی و عمرانی خویش قرار داده و مصمم است که با استفاده از هر گونه امکانات به هدف امحای این هیولای خانمانسوز مبارزه نماید و آن را در صدر...

(ص ۲)

## تفاهمنامه همکاری مشترک بین وزارت معارف و یازده اداره دولتی به امضا رسید

تفاهمنامه همکاری های مشترک به منظور کاهش بی سوادی، بین وزارت معارف و یازده اداره دولتی دیگر به امضا رسید. در محفلی که به همین منظور در قصر گلخانه صدارت برگزار شده بود، محترم قانونپوه سرور دانش معاون دوم رییس جمهورو رئیس کمیته ملی سواد آموزی، با اشاره به اهمیت سواد در جامعه، گفت: هدف کمیته ملی سواد آموزی تطبیق طرح بسیج ملی سواد آموزی می باشد.به گفته معاون رئیس جمهور، این طرح متشکل از دو رکن مردم و بخش خصوصی و نهاد های دولتی است که در بخش نهادهای دولتی از سال گذشته به این طرف تطبیق طرح بسیج ملی علیه...

(ص ۲)

## د پوهنې وزارت د بشري سرچينو د خدمتونو مرکز پرانېستل شو

پوهنې وزارت د مراجعينو لپاره د لازمو اسانتياو د برابرولو، کاري امورو د چټکتيا او په اړوندو ادارو کې د نظم د رامنځ ته کېدو په موخه د ګڼو خدمتو مرکز پرانېست.



د خدمتونو دا مرکز د پوهنې وزارت د بشري سرچينو په عمومي رياست کې د پوهنې وزير ښاغلي ډاکټر اسدالله حنيف بلخي، د وزارت د معينانو، مرکزي رييسانو او يو شمېر نورو چارواکو په ګډون پرانېستل شو.

د پوهنې ښاغلي وزير د کاري امورو چټکتيا، مراجعينو ته پر وخت د لازمو اسانتياو برابرول او د پوهنې وزارت په اړوندو ادارو کې د نظم رامنځ ته کول ددې مرکز د جوړېدو مهمې موخې وبللې.

د پوهنې وزارت د بشري سرچينو عمومي رييس ښاغلي خالد ارشد هم ددې مرکز جوړېدل خورا مهم وبلل او يادونه يې وکړه، چې له دې لارې به مراجعينو ته پر خپل وخت شفاف، مسلکي او متوازن خدمتونه وړاندې کړي.

## ۲۰۰ تن معلم از برنامه ارتقای ظرفیت فارغ گردیده اند

۲۰۰تن معلمان مکاتب شهر کابل از دور بیست پنجم کورس دوازده روزه ارتقای ظرفیت فارغ گردیدند در محفل که بدین مناسبت در تالار خانه معلم برگزار گردیده بود محترم دکتر اسدالله حنیف بلخی وزیر معارف ضمن سپاس و قدر دانی از کمک و همکاری های کشور دوست ترکیه، فراغت معلمان را ازین کورس یک دست آورد بزرگ در جهت بهبود نظام تعلیمی کشور دانست و آنرا یک گام مثبت و مهم تلقی نمودند. آقای بلخی تدویر همچو کورس ها را در راستای مسلکی شدن معلمان موثر دانسته اظهار امید واری کردند که ادامه همچو برنامه ها میتواند نظام معارف را از لحاظ کمی و کیفی به مدارج عالی آن برساند آقای بلخی از اشتراک کنندگان کورس خواست آنچه را که آموخته اند در تدریس روزمره در مکاتب مربوطه شان به کار برند تا معارف کشور را به اهداف که همانا بهبود کیفیت نظام معارف است برسند. سپس مصطفی بوتون نماینده موسسه تیکا از کمک های کشور متبوعش در جهت بهبود و غنامند شدن نظام معارف افغانستان وعده هر گونه کمک و همکاری را نمودند کورس ارتقای ظرفیت برای معلمان مکاتب شهر کابل از طرف وزارت معارف به همکاری موسسه تیکا کشور ترکیه تدویر گردیده بود قابل یادآوریست که تا حال حدود ۳۰۰۰ تن معلم بعد از فراگیری دورس ازین برنامه سند فراغت خویش را بدست آورده اند.

## دور بابا ولسوالۍ کې د يوه ښوونځي د بنسټ ډبره کېښودل شوه

د ننګرهار ولايت په دور بابا ولسوالۍ کې د يوه ښوونځي د جوړېدو چارې د يو لړ مراسمو په ترڅ کې پيل شوې. د يادې ولسوالۍ د داربند سيمې ښوونځي ته د خلکو لخوا په ورکړل شوې دوه جريبه ځمکه کې په پاخه او اساسي ډول نوې يو پوړيزه ودانۍ جوړيږي، چې ۸ درسي ټولګي، ۴ اداري خونې، د زده کوونکو لپاره ۱۶۰ درې کسيزه مېز لرونکې څوکۍ، د څښاك د پاکو اوبو څاه، ۲۵۶ متره د احاطې دېواَل او نوري اړينې ښوونيزې اسانتياوې به ولري.




ددې ودانۍ رغنيزې چارې شاوخوا ۸ مياشتې وخت نيسي، چې له جوړېدو او پرانېستو سره به د ياد ښوونځي ۸۵۰ زده کوونکو ته د زده کړو خوندي تدريسي چاپېرياَل رامنځ ته شي.د ياد ښوونځي پر نوې ودانۍ ۱۳،۲ ميليونه افغانۍ لګښت راځي، چې د پوهنې وزارت له پرمختايي بوديجې څخه ورکول کېږي. د ننګرهار د پوهنې رييس سيد عيسی سادات د سيمې خلکو ته د ښوونځي د نوې ودانۍ د رغنيزو چارو د پيل له امله مبارکي وويله او له دوی يې وغوښتل، چې د يادې ودانۍ د رغنيزو چارو په څارنه، ساتنه او خونديتوب کې له دوی سره مرسته وکړي. د سيمې مشرانو هم په خپلو خبرو کې د هر راز مرستې ژمنه وکړه او ډاډ يې ورکړ، چې د پوهنې د پرمختګ لپاره هر ډول مرستې او همکارۍ ته تيار دي.

سرمقاله:

# اختر د الهي ستر آزمون پر وړاندې د برې نښه ده

اختر په اسلامي امت کې سترځای اومقام لري. د اخترکلمه د مسلمانانو په ذهنونو کې د خوښيو، خوشحاليو، ښکلاګانو، د سخاوت د غوړېدلو د سترخوانونو،ميوو، غلو او دانو، ښکلو جامو او له خندا ډکو محفلونو خاطرې را ژوندی کوي. اختر د الهي ستر ازمون پر وړاندې د برې نښه ده، چې په راتلو يې د انسان ضمير، روح او روان غوړيږي او د نيوي او اخروي ښېګڼو د پانګې د زياتولو لار خپلوي.

اختر مسلمانانو ته د هغوی د ځاني او مالي عباداتو په وړاندې د يوې توښې په توګه، د روښانه،ښکلي او له خوښيو ډک ابدي ژوند زيری ورکوي؛ نو مسلمانانو ته په کار ده چې د دغو ښو شپو او ورځو په برکت، د اسلام د سپڅلي دين له احکامو سره سم يو بل ته د صفا او صميميت غېږې خلاصې کړي او له تربګنيو او بې ځايه دښمنيو او خوابديو څخه ځان وساتي او په خپل کور، کلي او ټولنه کې د مينې، محبت، وروری يووالي او سراسري سولې او امنيت فضاء را منځته او خپل هيواد او خلک د سوکاله او نيکمرغه ژوند د خپلولو لوري ته وهڅوي اوس چې د نيکمرغه لوی اختر په درشل کې يوو ټول مسلمانان چې د نصاب خاوندان وي بايد قرباني وکړي او دغه ابراهيمي سنت پر ځای کړي او په دې توګه د خپلو بې وزله او غريبو هيوادوالو لاس ونيسي.

ګرانو ښوونکو او د پوهنې د ستر کاروان لارويانو!

زموږ ګران هيواد د خپل پنځه زره کلن تاريخ په اوږدو کې له يو سخت پړاو څخه تيريږي او د هيواد د بچيانو سربښندنې او قربانۍ ته اړتيا لري او دغه قرباني د ښوونې او روزنې د ډګر فتحه کول او تر واک لاندې راوستل دي، يو هيواد هغه وخت آزاد، خپلواک ګڼل کيږي چې ټول اقتصادي، فرهنګي، سياسي، ښوونيز او روزنيز ډګرونه يې سمسور او غوړېدلي وي او دا هغه وخت امکان لري چې بچيان يې د علم او پوهې په ګاڼه سينګار شوي او د يو روغ، غوړېدلي او سمسور پوهنيز نظام خاوندان وي.

درنو ښوونکو! د پوهنې د ډګر د سمسورولو او ځړوبولو مسووليت ستاسو او په مجموع کې د ټولو هيوادوالو په ځانګړې توګه د درنو ميندو او پلرونو په غاړه دی، په دې کې هيڅا ته سترګې په لاره مه پاته کيږی او د خپلو ماشومانو ځوانانو نجونو او هلکانو د سالمې ښوونې او روزنې لپاره د همت مټې را ونغاړئ او پانګونه وکړئ او دغه پانګونه به بې له شکه چې زموږ د تاريخي هيواد راتلونکی تضمين کړي او موږ به وکولای شو چې خپلو راتلونکو نسلونو ته خپل له وياړه ډک تاريخ روغ ولېږدوو او خپل مسووليت به د خدای، وطن او خلکو په وړاندې تر سره کړو. د پوهنې د بڼ سمسورول ستره قرباني غواړي او د هيواد هر اصيل بچی بايد دغې قربانۍ ته حاضر وي.

بقیه صفحه اول

## تفاهمنامه همکاری...

بی سوادی آغاز شده است. محترم معاون دوم مقام عالی ریاست جمهوری افغانستان گفتند: تفاهمنامه های همکاری مشترک بین وزارت معارف و برخی از ادارات دولتی که قبلا امضا شده است در امر کاهش بی سوادی مفید بوده و این همکاری های مشترک ادامه خواهد یافت.

دراین محفل جلالتمآب دکتر اسد الله حنیف بلخی وزیر معارف، نیز با اظهار خرسندی از توجه معاون رئیس جمهور جهت کاهش بی سوادی در کشور، گفتند: پیش از این، تفاهمنامه همکاری های مشترک بین وزارت معارف و پانزده اداره دولتی به امضا رسیده بود که براساس آن بیش از هزار تن در این ادارات، شامل برنامه های سواد آموزی شده اند. وزیر معارف افزود: قرار است در آینده نزدیک تفاهمنامه همکاری های مشترک به منظور کاهش بی سوادی در افغانستان بین وزارت معارف و ۱۹ اداره دولتی دیگر نیز به امضا برسد. گفتنی است که تفاهم نامه همکاری های مشترک برای کاهش بی سوادی بین وزارت معارف و وزارت خانه های امورمهاجرین و عودت کنندگان، معادن و پترولیم، مبارزه با مواد مخدر، امورخارجه، زراعت، آبیاری و مالداری، ستره محکمه، اداره مرکزی احصائیه، جمعیت هلال احمر افغانی، کمیسیون مستقل انتخا بات، ریاست المپیک، اتحا دیه صنفی کارگران افغا نستان و ریاست عمومی کوچی ها با حضور محترم قانونپوه سرور دانش معاون دوم رئیس جمهور و رئیس کمیته ملی سواد آموزی، به امضا رسید.

بقیه صفحه اول

## پیام جلالتمآب وزیر...

وظایف خویش قرار داده است چنانچه پیشرفت های موجود در طی چند سال اخیر در این راستا و ایجاد کمیتۀ محو بی سوادی تحت ریاست محترم قانونپوه سرور دانش معاون دوم مقام عالی ریاست جمهوری افغانستان مصداق اهتمام جدی دولت برای نیل برهمین هدف عالی و سازنده در کشور می باشد.

وزارت معارف در حالی که یکبار دیگر به مناسبت روز بین المللی سواد، خویش را متعهد و همگام با جامعۀ جهانی و همصدا با فراخوان موسسه یونسکو (مؤسسۀ آموزشی، علمی و فرهنگی سازمان ملل متحد) در جهت زدودن کامل بی سوادی در کشور می داند، با اغتنام از فرصت یکبار دیگر این روز پرمیمنت را برای هریک از هموطنان عزیز و رهروان نظام آموزشی کشور تبریک گفته و از این روز فرخنده به حیث نقطۀ عطف وتجدید میثاق استقبال و تجلیل به عمل می آورد.

## د لغمان د پوهنې رياست ته نوې څلور پوړيزه ودانۍ جوړېږي

د لغمان ولايت د پوهنې رياست د نوې اداري ودانۍ د جوړېدو چارې د والي عبدالجبار نعيمي، د ولايتي شورا د په تړاو جوړو شويو مراسمو کې وويل، چې ددې ودانۍ له جوړېدو او پرانېستو سره به د لغمان د پوهنې رياست شته



استازو، د پوهنې رياست د مسوولينو، ديني عالمانو، قومي مشرانو او ځوانانو په ګډون د يو لړ مراسمو په ترڅ کې پيل شوې. پر دغې څلور پوړيزې ودانۍ، چې په څه باندې ۵ جريبه ځمکه کې جوړيږي ۵،۲۰ ميليونه افغانۍ لګښت راځي او په راتلونکو ۲۰ کاري مياشتو کې به يې د جوړېدو چارې سرته ورسيږي. ياده ودانۍ به ۴۰ خونې، د اوبو رسولو او برق سيستم، کاناليزاسيون، د پاکو اوبو څاه او نورې ټولې اړينې اداري اسانتياوې ولري. د لغمان د پوهنې رييس محمد حضرت مجددي د ودانۍ د بنسټ ډبرې ايښودو اداري ستونزې هواري او د پوهنې ټولې چارې به په ښه توګه تنظيم او پر وخت ترسره شي. د لغمان والي عبدالجبار نعيمي د ودانۍ د جوړېدو چارو د پيل له امله د پوهنې رياست کارکوونکو او لغمان ولس ته مبارکي وويله او دا يې د ياد ولايت د پوهنې په پرمختګ کې يو بل مهم ګام وباله.ښاغلي نعيمي د پوهنې په برخه کې د شته ستونزو يادونه هم وکړه او ژمنه يې وکړه، چې په دې ولايت کې به د پوهنې د هر اړخيز پرمختګ لپاره جدي هلې ځلې وکړي.

## د لوګر د سرخ آباد لېسې ته د اوبو را ايستلو سيستم فعال شو

د لوګر د محمدآغې ولسوالۍ د سرخ آباد د هلکانو لېسې ته د لمريزې بريښنا په مټ د اوبو را ايستلو سيستم جوړ شو. د ياد سيستم پرفعالولو ۲۱ زره افغانۍ لګېدلي، چې ټولې د والدينو شورا داوطلبه غړو ورکړې دي.

دغه سيستم د اوبو يو آبازك، دوه تختې د لمريزې انرژۍ سولر، يوه بيټرۍ، د اوبو ۵۰ متره پيپ او ځينې نور اړين وسايل لري، چې د لمر په راختو سره د ښوونځي انګړ ته يو اينچ اوبه ورکوي.

د سرخ آباد لېسې آمر رفيع الله



دقيق وايي، چې دوی اوس مهال د دې سيستم په مټ ونو، ګلانو او نورو کرل شويو فصلونو او بوټو ته اوبه ورکوي. د يادونې وړده، چې د لوګر په يو شمير نورو ښوونځيو کې هم د کليوالو په مالي مرسته ورته ډېر سيستمونه جوړ شوي دي.

## ګرديز کې د نجونو لپاره د ښوونځي نوې جوړه شوې ودانۍ پرانېستل شوه

د پکتيا ولايت د مرکز ګرديز اړوند د تېرې سيمو د نجونو لپاره نوې جوړه شوې ودانۍ د يو لړ مراسمو په ترڅ کې پرانېستل شوه. ددې ودانۍ په پرانېستو سره د سيمې سلګونه نجونو زده کوونکو ته د زده کړو خوندي تدريسي چاپېريال برابر شوی دی. دغه ودانۍ چې د پاملرنې موسسې په لس ميليونه افغانيو جوړه شوې، څلور درسي ټولګي، دوه اداري خونې، د احاطې دېوال، د پاکو اوبو څاه، تشنابونه او نورې ټولې اړينې ښوونيزې اسانتياوې لري.

د پکتيا د پوهنې رييس د ودانۍ د پرانېستې پر مهاَل وويل، چې تر دې وړاندې په دې سيمه کې د نجونو ښوونځي ودانۍ نه درلوده، چې د ګڼ شمېر نجونو د زده کړو پر وړاندې يو لوی خنډ ګڼل کېده. هغه خوښي وښووده، چې ددې ودانۍ په پرانېستو سره شونې ده چې د نوموړي ښوونځي د سلګونو نجونو زده کوونکو ترڅنګ د سيمه ييزو زده کړو ټولګيو نجونې به هم په دې ودانۍ کې خپلې زده کړې پر مخ يوسي.

نوموړي د نجونو لپاره د ښوونځي جوړېدل د هېواد د پرمختګ په برخه کې يو لوی ګام وباله او د سيمې له اوسېدونکي يې په دې برخه کې د مرستو او همکاريو له امله مننه وکړه. د يادولو وړ ده، چې د ياد ښوونځي د نوې ودانۍ د پرانېستو په مراسمو کې د پکتيا مرستيال والي عبدالولي سهي، د پوهنې رياست مسوولينو، د پاملرنې نړيوالې موسسې استازو، مدني فعالانو او د سيمې ګڼ شمېر اوسېدونکو برخه اخيستې وه.

# وطن

روح ژوندون دی تر هغو چې وي په تن کې
که تن مړ شي، روح نو څه دی په بدن کې

وطن تن دی آزادي يې روح ده ګوره
استقلال شي بې معنی په نه وطن کې

زړه ژوندی دی په قالب کې د کوګل
که کوګل نه وي زړه ګوره په مدفن کې

ډېر قومونه دي دنيا کې بې هويته
درناوی وي د هريو چا پخپل مأمن کې

خپل وطن ګوره عزت او پاچهي ده
د هرچا وي پت خوندي پخپل مسکن کې

آزادي هم د وطن روح ده بې شکه
که دا نه وي نشاط نشته ها ګلشن کې

خپلواکي او خاوره دوه لازم ملزوم دي
آزادي دې په وطن، روح دې په تن کې

پيژانده شي په مجنون د ليلا حسن
ليلا هم مشهور مجنون کړ هر وطن کې

خپل وطن او خپل اختيار ليلا مجنون دي
که يو مري، ها بل به هم وي په کفن کې

راليږونکی: عبدالستار

# گیله

ګيله مې کېږي چې دې خپل نه کړمه ځان دې نه کړم
له خپله لاسه دې پردی کړمه جانان دې نه کړم

په هر محفل کې مې دنيمو شپو سندره کړلې
تا تپه نه کړم د سرو شونډو يا قربان دې نه کړم

ما څه په مينه د خپل زړه په کور کې وساتلې
تا مېلمه نه کړمه د زړه کور کې ودان دې نه کړم

زويه مننه چې تر خپلې وسې وران دې کړمه
راټول دې نه کړمه ښايسته افغانستان دې نه کړم

اتل دا خپل نيمګړی ژوند و دربښلی تاته
لوګی دې نه کړمه، له خپل ځانه قربان دې نه کړم

راليږونکی: شهير

# زندگی

زندگی آرام است، مثل آرامش یک خواب بلند
زندگی شیرین است، مثل شیرینی یک روز قشنگ
زندگی رویایی است، مثل رویای یک کودک ناز
زندگی زیبایی است، مثل زیبایی یک غنچه ی باز
زندگی تک تک این ساعتهاست
زندگی چرخش این عقربه هاست
زندگی راز دل مادر من
زندگی پینه ی دست پدر است
زندگی مثل زمان در گذر است

ارسالی: عزیر

# ارزونه

ځوک چې درس او هم تعليم ته مخه وکړي
نو ضرور به تور تمونه مخه ښه کړي

هوسا ژوند به لري خوښ او هم خوشاله
په امان به وي د ناپوهۍ له دې جنجاله

ځوک چې درس نه وايي تل به وي زهير
په دې شان چې زما وړور وها فقير

علم فرض ده په هر يوه انسان
چې سبق وايي هغه ده با ايمان

څه ښه ويلي دي پوهانو عالمانو
دا د دين او دنيا هغو پوهانو

علميت زيب او زينت دی هر انسان ته
جهالت لوی مصيبت دی هر انسان ته

راليږونکی: محمد عباس

# روح لکه هینداره

زر ځلې کافر شومه بيا دې مسلمان کړمه
زه له ختهو جوړ آدم مينې دې انسان کړمه

روح مې آيينه غوندې ته يې د ښکلا تصوير
څومره رانېږدې شولې څومره دې جانان کړمه

تا ته چې درګورمه څنګه به مومن شمه
ستا په عشق کې ډوب يمه څنګه دې ايمان کړمه

څاڅکی د شبنم يمه پروت په يوه شنه پاڼه
يو ځل که راوګورې څاڅکی به باران کړمه

هره ساه مې زړه کې يې هره ساه مې سترګو کې
چېرته دې پيدا کړمه چېرته دې پنهان کړمه

راليږونکی: نجيم

# دست دعا

آنگاه که غرور کسی را زیر پا می کنی، آنگاه که کاخ آرزوهای کسی را ویران می کنی، آنگاه که شمع امید کسی را خاموش می کنی، آنگاه که بنده ای را نادیده میگیری، آنگاه که حتی گوشهایت را می بندی تا صدای شکستن غرور اش را نشنوی، آنگاه که خدا را می بینی و بنده خدا را نادیده می گیری ، می خواهم بدانم، دستانت را بسوی کدام آسمان دراز می کنی تا برای خوشبختی خودت دعا کنی؟

ارسالی: شبانه

# قضاوت

از قضاوت کردن دست بکش تا آرامش را تجربه کنی. اگر باور داشته باشی که می توانی , حتما می توانی . برنامه داشتن ویژه گی آدمهای کارآمد است اگر در بند زندگی روزمره تان شوید نمی توانید گامی بسوی بهروزی بر دارید دانستن کافی نیست،باید به دانسته های خود عمل کنید. برای آنکه پرواز کنی ، پیکر خویش را به حال خود رها مکن ضعیف‌الاراده کسی است که با هر شکستی بینش او نیز عوض شود. انسان وقتی در خانه نشسته است خوهان حادثه ای در زندگی است و هنگامی که دچار حادثه می شود طالب زندگی آرام در خانه است . آدم پرحرف تخم می پاشد و آدم خاموش درو می کند. هیچ کس جز خود ما مسوول بدبختی ها و یا خوشبختی های ما نیست هر کس مرتکب اشتباهی نشده، اکتشافی هم نکرده است

ارسالی: عابده عابدی

# نتیجه


هیچ چیز در طبیعت برای خود زندگی نمیکند رودخانه ها آب خود را مصرف نمیکنند
درختان میوه خود را نمی خورند خورشید گرمای خود را استفاده نمیکند
ماه ، در ماه عسل شرکت نمیکند گل ، عطرش را برای خود گسترش نمیدهد
نتیجه: زندگی برای دیگران ، قانون طبیعت است. . .

ارسالی: طوبا

# پوهاند محمد فاضل د پوهنې څلور ديرشم وزير

گل‌آغا احمدي وردگ

ښاغلی پوهاند محمد فاضل په ۱۳۷۳ کال کې د افغانستان د پوهنې وزير وو. پوهاند محمد فاضل د جنرال محمد صديق خان زوی وو چې د ۱۳۰۱ هجري لمريز کال د غبرګولي په مياشت کې د پروان ولايت د چاريکار په ده قاضي کلي کې زيږيدلی دی او د هېواد د آزادۍ د لارې د مجاهد غازي مير مسجدي خان د کورنۍ سره تړاو لري. ښاغلی پوهاند محمد فاضل لومړنۍ زده کړې په خپل کور او مسجد کې کړې دي او په ۱۳۱۷ کال يې د سويې په آزموينه کې تر شموليت او کاميابۍ وروسته د چاريکار د لومړني ښوونځي څلورم



ټولګي ته شامل شو او د خپلو زده کړو لومړنۍ دوره يې په همدې ښوونځي کې بشپړه کړه. ښاغلی پوهاند فاضل په ۱۳۱۹ کال د غازي لېسې اووم ټولګي ته شامل او په ۱۳۲۴ کال له نوموړې ليسې څخه تر فراغت وروسته د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي ته بريالی شو. د خپلو زده کړو تر څنګ ښاغلي فاضل د لېسې او پوهنتون په کلتوري چارو کې هم فعاله ونډه اخيسته، ليکنې به يې له انګريزي څخه دري ژبې ته ژباړلې او د وخت له مطبوعاتو سره به يې همکاري کوله. ښاغلی پوهاند فاضل په ۱۳۷۴ کال د افغانستان د اسلامي دولت د پوهنې د وزير په توګه و ټاکل شو چې لومړی کار يې د پوهنې په وزارت کې د مسلکي کدرونو ټاکل، د پوهنيزو موسساتو تجهيز، د درسي کتابونو توزيع او د هغو تعليمي چارو بيا احيا کول وو چې د کورنۍ جګړې په ترځ کې ورته زيان رسېدلی او له فعاليت څخه لوېدلي وو.

Weekly
Marif
Newspaper

Established 2002, Issue No 218, Month August - September 2017
Ministry of Education Cultural and Social Issue

# پیام جلالتمآب وزیر معارف افغانستان به مناسبت آغاز سال جدید تعلیمی ولایات گرمسیر کشور

به نام خداوند لوح و قلم
السلام علیکم ورحمت الله و برکاته!

خرسندم که از جانب خود و هیات رهبری وزارت معارف افغانستان بهترین تبریکاتم را به مناسبت آغاز سال جدید تعلیمی در مناطق و ولایات گرمسیر کشور برای هموطنان معارف دوست، مسوولان بخش تعلیم و تربیه، معلمان گرامی و شاگردان عزیز تبریک و تهنیت عرض می دارم.

هموطنان عزیز، معلمان و شاگردان ارجمند! بدون تردید مبرهن است که هیچ جامعه یی بدون داشتن نظام آموزشی منظم و معیاری و افراد با سواد و تعلیم یافته نتوانسته و نمی تواند به مدارج عالی تمدن و پیشرفت برسد و تمام ترقی و تعالی امروزهٔ بشریت از فیوضات علم و دانش می باشد که به آن دست یافته اند.

با درک این موضوع وزارت معارف کشور تحت رهبری مدبرانه دولت جمهوری اسلامی افغانستان کماکان کوشیده تا با فراهم آوری تسهیلات آموزشی، عرضه خدمات متوازن تعلیمی و تربیتی در سراسر



کشور و اهتمام شمولیت تمام اطفال واجد شرایط به مکتب به ویژه دختران، تمام توانایی خود را به خرج دهد تا از این طریق بساط نامیمون بی سوادی در جامعهٔ ما جمع و با کاروان ترقی و انکشاف جهانی همگام شویم.

به جاست تا در این روز خجسته یکبار دیگر از علمای کرام، شخصیت های بانفوذ و ذیدخل بخواهم که در اعمار، تجهیز و حفاظت حریم معارف که مهد آموزش توحید شناسی و خدا پرستی است و حراست از جان و مال معلمان و متعلمان کوشش مضاعف نموده که ان شأالله از این طریق به استناد حدیث مبارکهٔ حضرت محمد (ص) شامل صدقات جاریه شده و اجر عظیم دنیوی و اخروی را نصیب شویم.

در اخیر یکبار دیگر آغاز سال جدید تعلیمی ولایات و مناطق گرمسیر کشور را برای ملت غیور و معارف دوست افغانستان تبریک گفته از درگاه خداوند تبارک و تعالی توفیقات مزید برای رهروان قافله بزرگ معارف کشور خواهانم.

# د لوگر د کوچیانو لیسې د جوړېدو چارې پیل شوې

دلوګر ولایت مرکز پل علم ښار کې د کوچیانو لیسې د نوي درې پوړیزې تدریسي ودانۍ د جوړولو چارې د والي محمد حلیم فدایي، د پوهنې



رییس محمد اکبر ستانکزي، د کوچیانو د استازو او یو شمېر نورو چارواکو په ګډون پیل شوې.

د کوچیانو لیسې نوې ودانۍ د شل میلیونه افغانیو په لګښت د افغانستان د ملي بودیجې له لارې په مجهز او عصري ډول جوړېږي، چې د ودانولو کار به یې په راتلونکو ۲۴ میاشتو کې بشپړ شي.

دا ودانۍ به ۲۴ درسي ټولګي، زده کوونکو ته میز او څوکی، د برېښنا سیستم، کانکریټي کثافت دانۍ، ۱۰ عصري تشنابونه او نورې اړینې ښوونیزې اسانتیاوې ولري.

د کوچیانو د هلکانو په لیسه کې دا مهال پنځه سوه زده کوونکي زده کړې کوي، چې د دې ودانۍ په جوړېدو سره به کوچي ماشومانو ته د زده کړې تر ټولو ښه زمینه برابره شي.

د لوګر د پوهنې رییس د یادې ودانۍ جوړېدل یوه لویه لاسته راوړنه بولي او د دې ودانۍ د جوړېدو مبارکي ټولو لوګر میشتو کوچیانو ته وایي.

# لیسه غازی میرمسجدی خان

علم و دانش از دیر باز ریشه در تاریخ و تمدن بشری داشته که همگام با روزگار به بیش رفته و رو به تکامل قدم گزارده است. دست آورد های امروزی از ساده ترین تا پیچیده ترین وسایل و امکانات همه نتیجه دسترنج و زحمت دانشمندان است که با فراگیری دانش و تجربه توانستند مسیر زندگی بشر را رنگ و رونق بخشیده و به مدارج عالی رساند. مکتب و مدرسه از اساسی ترین عنصر روند آموزش و پرورش است که با توجه به شناخت و اهمیت آن میشود نسل پربار و آینده ساز به جامعه تقدیم کرد. خبرنگار نشریه معارف اینبار سری به ولایت کاپیسا زده و از روند تدریسی و آموزشی بعضی ازنهاد های تعلیمی این



ولایت گزارش تهیه نموده که توجه شما خوانندگان عزیز را به آن معطوف میداریم. محمد دین خان مدیر لیسه میرمسجدی خان نکات مهمی را در مورد تاریخچه و امکانات مکتب چنین برمیشمارد : زمانی که مردم به ارزش علم و دانش و دانش آموزی بیشتر پی بردند و نیاز برآن شد که آدرسی برای آموزش و کسب علم و معرفت باشد در ولسوالی حصه اول کوهستان ولایت کاپیسا مکتب ابتداییه به نام شخص بزرگواری از پیشوایان مجاهدان دوران جنگ های افغان و انگلیس بنا نهاده شد. دقیقاً سال ۱۳۱۲ مکتب میرمسجدی خان در روستای اشترگرام ولسوالی حصه اول کوهستان به نام مکتب ابتداییه اشترگرام بنیان گذاری شد. در این مکتب از آوان تأسیس الی سال ۱۳۲۷ شاگردان در فضای باز به شکل دهاتی مصروف تعلیم و تربیت بودند. درهمین سال دولت تصمیم اعمار تعمیر مکتب را درجای مناسبی در نظر گرفته تا اینکه تعمیر مکتب با ۱۸ اتاق تدریسی و اداری اعمار شد. مکتب میرمسجدی خان درسال ۱۳۳۸به متوسطه و در سال ۱۳۴۴ به لیسه ارتقا کرد. در جریان سال های ۱۳۴۱ و ۱۳۴۲ از این مکتب به حیث مهمان خانه ای ولایت پروان از مهمانان داخلی و خارجی با تدویر برنامه های با شکوه استفاده میشد. تعمیر لیسه به اثر حوادث سالهای ۱۳۵۸ و بعد از آن به کام آتش کشیده شد تا اینکه در سال ۱۳۷۲ احیای مجدد شد. این لیسه که از نظر تاریخی به عنوان دومین مکتب پس از لیسه حبیبیه کابل شناخته شده است از بدو تأسیس الی اکنون در عرصه ای تعلیم و تربیت فرزندان مردم کوهستان و نواحی همجوار آن نقش به سزایی داشته که سطح جذب فارغان آن در امتحان ورودی تحصیلات عالی (کانکور) در سال های اخیر حتی به ۹۵ درصد رسیده است. هم اکنون این لیسه در ۱۲جریب زمین دارای دو تعمیر شامل ۲۱ صنف درسی، ۲ اتاق اداری، لابراتوار، کتابخانه، میدان های فوتبال و والیبال و ۱۲ باب تشناب میباشد که روند آموزش شاگردان آن در دو وقت درسی از سوی ۴۸ تن معلم، یک مدیر، دو سر معلم، یک مدیر اجراییه و ۶ملازم به پیش میرود. قابل یادآوریست که برنامه ای آمادگی کانکور از سوی شماری از معلمان این لیسه به گونه ای افتخاری برای شاگردان تدریس میشود. این لیسه با وجود امکانات موجود به مشکل های همچون کمبود معلم، کمبود صنوف درسی و نبود آب آشامیدنی مواجه بوده است که با فراهم آوری سهولت های بیشتر برازندگی این لیسه در عرصه ای معارف بیشتر از پیش خواهد شد.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني - سرمؤلف مرستیال عنایت الله عادل - محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و ډیزاین: بریالی رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت